د افغانستان اسلامي جمهوريت
جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان د ځمکو اداره
اداره اراضی افغانستان

Islamic Republic of Afghanistan
Afghanistan Land Authority

# مطبوعاتي اعلامیه

## په اته زونونو کې د ټرانسپورټي ترمینلونو جوړولو لپاره د ځمکو د ثبیت لړۍ پیل شوه

د افغانستان د ځمکو اداره د جلالتمآب جمهور رییس لارښوونې سره سم، په کابل او اتو زونونو کې د معیاري ټرانسپورټي ترمینلونو جوړولو لپاره د ځمکې د تثبیت چارې پیل کړې او ډېر ژر به راټول شوي معلومات کابینې او جمهوري ریاست عالي مقام ته د منظورۍ لپاره واستوي.

دغه پروسه په لومړي ګام کې له پلازمینې کابل څخه پیل شوې او په پام کې ده چې د شمال، سویل، ختیځ او لویدیځ شاوخوا دروازو کې د اړتیا وړ ځمکې تثبیت او وروسته د هیواد په اتو نورو زونونو کې هم ورته چارې پیل شي.

د افغانستان د ځمکو اداره د جلالتمآب جمهور رئیس د لارښونې سره سم په یادو سیمو کې له ۱۰۰۰ تر ۱۵۰۰ جریبه دولتي ځمکه تثبیتوي او له هرې سیمې څخه درې درې نمونې جلالتمآب جمهور رییس ته استوي او تر منظورۍ وروسته به په رسمي توګه ټرانسپورټ وزارت ته انتقال شي.

دغه ټرانسپورټي ترمینلونه د هیواد په کچه ټرانسپورټي آسانتیاوو ته د خلکو آسانه لاسرسی، په ښارونو کې د ټرافیک کمولو، د یوه اغیزمن ټرانسپورټي نظام د رامنځته کولو او د دولتي عوایدو له لاسه تلو د مخنیوي په موخه جوړیږي.

د افغانستان د ځمکو اداره په هیواد کې ټولنیزې او اقتصادي ودې په موخه تل هڅه کوي، چې د ځمکو د سروې، تثبیت او انتقال له لارې د حکومت د اقتصادي او پرمختیایي او ټولګټو پروژو او پروګرامونو د ښه تطبیق لپاره لار هواره کړي.

---------------------------------------------------


د زیاتو معلوماتو لپاره:
حشمت ناصری، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس
د افغانستان د ځمکو اداره
مبایل: ۰۷۰۵۵۰۰۵۵۵
بریښنالیک: Hashmat.nasiri@arazi.gov.af